# د سپين غر د سره
## (اګست ۲۰۰۸ء)

ډاکټر محمد زبير حسرت

د محترم اجمل خټک نوې شعري مجموعه ده چې د ملګري شاعر اديب ښاغلي هارون الرشيد خټک په زيار په اګست ۲۰۰۸ء کښې چاپ شوې او د اباسين پښتو جرګه خيراباد نوښار له خوا خوره شوې ده.

اجمل خټک صاحب د خپلې دې مجموعې ترون "وړوميې د هغه ټولو ننګيالو په نوم کړې دے چې په خپله ژبه، خپله خاوره او په خپله کلتور مئين دي او بيا د هغو قدرمنو په نوم چې هم خپل ننګيالي پيژني او هم ئې د قربانيو قدر کوي." (۳ مخ)



د مجموعې د فهرست له رويه کتاب په درېو برخو کښې وېشلے شوے دے چې په وړومبۍ برخه کښې ورته ملګري هارون خپلو "يو څو خبرو" کښې هم اشاره کړې ده او هم په دې وړومبۍ برخه کښې د ښاغلي قتيل خوګياڼي "د ملنګ نامې ملنګي- څو بعدي شخصيت اجمل خټک" نومے ليک هم شامل دے چې دا تري څرګند يږي چې دا کتاب اول د "ملنګ نامه" په نامه ښاغلي قتيل خوګياڼي راټول کړے او فقط په څو اوږدو نظمونو لکه "سپين غر ته"، "د چاريکار ميله"، "ملنګ نامه"، "افغان جهان" وغيره مشتمل ؤ.

خوګياڼي صاحب ليکلي دي: "او دا ده ملنګ نامه ئې لولئ" (۲۲ مخ) دا مجموعه د نن نه درې کاله وړاندې ما د اجمل خټک صاحب په حجره کښې د قتيل خوګياڼي صاحب سره چې د ملګري شاعرانو اديبانو اعتبارګل اپريدي او عبدالمالک اپريدي په ملګرتيا کښې راغلے وۀ، ليدلې وه چې اجمل صاحب ورته د چاپ دپاره سپارلې وه خو داسې بريښي چې د هغوي پرې سمے نۀ وي راغلے او دا کار الله تعالٰي د هارون نه اخستو. په هر حال د مجموعې درې واړه برخې شاعري ده خو وړومبۍ دوه برخې د خټک صاحب

خپله شاعري ده چې په وړومبۍ برخه کښې ئې نوې شاعري او دوېمه برخه کښې د هغوي د زلميتوب اشعار غزلونه، څلوريزې او ځنې فردونه شامل دي چې د اجمل صاحب د ژوند نه ډک د جلال اواز هم لري او د مينې د جمال ساز هم خو د مجموعې په درېمه برخه کښې د نورو شاعرانو هاغه منظوم عقيدتونه شامل کړي شوي دي چې وخت په وخت مختلفو شاعرانو د محترم اجمل خټک درانۀ شخصيت ته د سوغات په توګه وړاندې کړي دي. زما په خيال د دېو نظمونو دا موقع او محل نۀ ؤ. پکار ده چې د يوۀ شاعر په شعري مجموعه کښې دې هم د هغوي شاعري شامله وي نۀ چې د نور چا. دغه نظمونه په اجمل صاحب د نورو نظمونو او منثورو پېرزوئنو سره په يو بل کتاب کښې چاپ کول پکار وو.

لکه چې مونږ ته د اجمل خټک صاحب د شعري هُنر تخيل آفرينۍ او قادرالکلامۍ د هغوي د وړومبۍ شعري مجموعې "د غېرت چغه" نه اندازه ده بې ځايه به نۀ وي کۀ ووايم چې په دې مجموعه کښې د اجمل صاحب د شاعرۍ جاه و جلال او فني کمال هاغسې نۀ برېښي څنګه چې د هغوي د ځوانۍ د دور په شاعرۍ کښې ډېر تېز او تُند اوازونه اورېدے شو. دې ته به د وخت او حالاتو جبر ووايو چې د اجمل صاحب د پيرۍ په رنګ د هغوي د شاعرۍ وجود هم څۀ خو کمزورے شوے برېښي ولې له دې هم انکار ممکن نۀ دے چې د خټک صاحب په زړۀ او ذهن کښې اوس هم د خپلې پښتونخوا، پښتون اولس او خپلو پښتنو رواياتو او پښتنو اقدارو غم هم هاغه رنګ تازه دے او اوس ئې هم د خپل لوئے کور د نغري نه راتاوېدو




احساس هم هاغه هومره شديد دے څنګه چې "د غېرت چغه" کښې ؤ.

دې سره دا خبره هم لازماً د کولو، يادولو او ستائيلو ده چې په دې ضعيف العمرۍ کښې هم هغوي له خپله لاسه قلم نۀ دے غورځولے او د عَلَم کار ترې اخلي. حالات کۀ هر څنګه وي، موسم کۀ ګل وروي کۀ اور خو د خټک صاحب رجائي ذهن د اميد لمن له لاسه نۀ ورکوي. د مثال په توګه د نورو مثنوي، قطعه بند او پابندو نظمونو سره "ملنګ نامه" او "افغان جهان" د هغوي دوه طويل شاهکار ازاد نظمونه دي. په "ملنګ نامه" کښې خټک صاحب د خپل سياست، قربانيو، هلوځلو، مبارزې، خپل کړاؤ، خپل مقام، خپلې نظريې، خپل اولس او خپلې خاورې سره د مينې محبت تذکره په ډېر ازاد مټ او اوچت اواز کړې ده او بيا د دې هر څۀ په بدل کښې چې د کوم سلوک او کوم انجام ښکار ليدے شي په هغې ئې هم ښه رڼا اچولې ده او ډېرې بې باکۍ سره ئې خپلو لوستونکيو او د تاريخ طالب علمانو ته ډېر څۀ څرګند کړي دي.

مبارک دې شه ملنګه
چې د خپل کند او کچکول سره دې وينم

د "ملنګ نامې" د هر بند ابتدا او د ټيپ دوه مصرعې دي او هر بند ئې په يوه نه يوه ټپه ټپ کړے دے او دا قسمه ټپې ئې پکښې راوړې دي چې هم د موضوع او مضمون سره مطابقت پيدا کوي او هم د حالاتو سره سمون خوري. د مثال په توګه دا څو ټپې:

کچکوله پاڅه روانېږه
وخت د ديدن شو د يار در ته دې لېږمه
ملنګه دوه سُوده دې وکړل
هم دې خېر واخست هم دې وکړل ديدنونه
د بې ارزۍ کچکوله مات شې
چې در په در دې ګرځوم تش دې راوړمه
څانګه به نن سبا کښې ګل شي
ما ئې په سر کښې سرې غوټۍ ليدلې دينه
د زړۀ په باغ مې ډلۍ وشوه
بويه چې بيا سپرلے راځي سپړې ګلونه

او د سن تيس د چغې د يادولو په نيت دا بيت چې:

د ازادۍ نـاوې پـه مهـر کښـې سـرونه غـواړي
د سـرو جـامو زلمـے دې راشـي د ډولـۍ دپـاره

دغه رنګ دا ازاد ټپه ايز نظم د اجمل صاحب د ژوند د ژوندۍ ماضي او حال يو ښکلے تصوير هم دے او د مستقبل يو ښائسته تصور هم، يو داسې منظوم داستان چې ډېر خلق پکښې خپلې څېرې او کردارونه ليدے شي،د خپلو رويو نه خبرېدے شي. دا نظم مـونږ تـه دا هـم راښيي چې دلتـه د چا پـه قربـانيو څنګـه لـوبې کېـږي او د چا جـذبات او احساسات څنګه مجروح کولے شي او دې هر څۀ ته په څومره درانۀ نظر کتل کېږي او څومره ئې غندنه. غرض دا ازاد نظم يو داسې تاريخ او روښانه آئينه ده چې هر کردار ته پکښې خپله څېره ډېره صفا برېښي چې څنګه زنګ شوې ده.

هم داسې د خټک صاحب دوېم ازاد طويل نظم "افغـان جهـان" دے او د خټـک صـاحب د "نـوټ" ترمخه " نظم دے کۀ نۀ دے زما د زخمي احساس او ژور ارمان اظهار دے". (۷۹مخ)

د خېبـــر د غـــرۀ پـــه څوکــــه
ناسـت يـم خپـل جهـان تـه ګـورم

چې لوسـتونکے لـولي نـو ورتـه يـادېږي چې يووخت کښې محترم سمندر خان سمندر بابا هم داسې يو اوږد نظم ليکلے ؤ چې:

د ايلـم پــه څوکــه ناســت يــم
زۀ لـــه ټـــول جهانـــه پورتـــه

او بيـا ورتـه يـاد شـي چې اميـر حمـزه خـان شينواري هم په غزونې (اسوېلي) کښې وئيلي وو:

د جمرود په دشت کښې ناست يم
د خېبـــــر درې تــــه ګـــــورم

خـــو د دربـــو واړو شـــاعرانو پـــه شـــعري جوړښتونو، فني نېرنګيو، انساني الميو او رويو او سياسي نظريو کښې د زمکې اسمان فرق دے او بيا د اجمـل صـاحب اواز او انـداز د مخکښـنو دواړو باباګانو نه بېخي بېل او بدل دے.

د خېبر د غرۀ په څوکه
ناست يم خپل جهان ته ګورم
د بابا د وينې خاوره
د تاريخ د مينې ګل دے
دا اټک، هغه هلمند دے
دا امو، هغه بولان دے
څۀ ښائسته ښکلې دنيا ده
څۀ ښاغلے ئې انسان دے

خدايه! ستا ويړه دنيا کښې
دا زمونږ د مړنو کور
د ګلونو د مېوو بڼ
د باغونو د چينو کور
په سينه کښې خزانې دي
په جولۍ کښې نعمتونه
شنۀ وانښۀ ئې مښک عنبر دي
توري ګټې سرۀ لعلونه
دا زما د غېرت کور دے
دا شمله مې د بابا ده
دا پړونے مې د مور دے
زۀ د دې خاورې نه جوړ يم
دا زما د وينې رنګ دے
دا مې مينه ده پښتو ده
دا مې تُوره دا مې ننګ دے
(۷۹،۸۰ مخونه)

او داسې دغه ټول نظم د يوې مخصوصې نظريې لاندې ليکلے شوے دے او خټک صاحب چې د خيبر د تاريخي کنډاؤ په سر ناست څۀ ليدلي کتلي او محسوس کړي دي او د پښتون په لوږے او تاريخي کور او تاتوبي ئې نظر زغلولے دے، د دې خاورې د وګړو په حال دردمند او غمژن شوے دے نو هغه ئې د يو ويښ او بېدار ضمير او احساس لرونکي پښتون شاعر په حېث وئيلي دي چې دا د لوږے نيکانو، لوږے نسبونو، پښتون کور د چا د لاسه سور اور او لمبه شوے دے؟ د ګلونو، مېوو، باغونو، رڼو چينو، خدائي نعمتونو جنت، د غمو او لعلونو دا خاوره د چا په لمسه او د چا دپاره تنور شوې او دوزخ شوې ده، چا دوزخ کړې ده د فطرت د ښکليو نظارو، چې زړونو او سترګو ته به پرې سرور او يخوالے رسېدو، ولې نن په داسې عذاب او اذيت کښې ښکېل شوې ده.

له دې علاوه د خټک صاحب دې نوې مجموعه کښې "سپين غر ته"، "نوي کال ته"، "ګل وطن"، "د چاربکار مېله"، "د وخت فرياد"، "فکر و عمل"، "زما سياست"، "تجربه"، "د حکومت يو بل پېشکش" او "مينه" نومي نظمونو کښې خټک صاحب د خپل مخصوص اسلوب او مزاحمتي رنګ په روايت په دې تور، بې انصافه، بې ترتيبه، د ظلم او جبر، چُور تالان او استحصالي نظام کښې د خپلې پښتونخوا په پښتون اولس، د هغوي په بد حالۍ او بد نظمۍ په زړۀ پورې نظمونه وئيلي دي چې د زړۀ غبار ئې پکښې وېستلے دے.



دا شان د ٤٦-١٩٤٥ء د وختونو شاعري ئې هم د دې مجموعې زينت ده چې خپل خوند او رنګ ئې په هر حال په خپل ځائے دے او د هاغه دور په تناظر کښې ئې مطالعه پکار ده.

د غرونو هواګانو کښې د شعر ترنم دے غوږ کېږدئ چې اجمل به اوس د ځان سره لګيا وي